AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

ولي الله ملکزی

۲۰۱۹/۰۶/۰۱

# ښځه، حوره نده !!

له امیر کروړه رانیولي د شوروي تر یرغله، د پښتو د شعر او هنر په هر ژانر کې د مینې، ښکلا او حسن رنګ غالب وو. د ټپې، چاربیتې، بګتۍ او غزل ډیره برخه د غټو، نازولو او تورو سترګو په صفتونو ډکه ده. اوږدې زلفې، دنګه ونه، نری ملا، رانجه، سلايي، بانه، وریځې او اننګي یې د نظم تر څنګه، د نثر محوري ټکي ګڼل کیږي. چارګل، نتکی، والی، پیزوان، اوربل، چپه کاکل، ټیک، پایزیبې، چنډړ هار، بنګړي، نکریزې او چمکلي یې د هر ادبي بندار، نقل او ټپاسي وي. منګي، ګودر، شپیلۍ، چمبه، رباب، سیتار او ټنګ ټکور به د هرې حجرې برخه او د هر شاعر د تخیل او تصور ځاله وه.

خو روسي ښکیلاک دغه د پیریو پیریو کلاسیک بهیر او فولکلوریک دود په خړ سیند لاهو کړ او ځای یې ټوپک، کارتوسو، ببرو څنو، وینو، بمونو، غمونو او مورچلو ونیو. اوښکو، سلګیو، شهادتونو، قبرونو، مزارونو، جنډو او حورو او غلمانو بیدریغه شوق، خپل رنګ راوړ. پکول د غزا سمبول شو او په غاړه کې برګ او چوپړ چوپړ دستمال، د مقاومت نښه ؟!

په قرآنکریم کې درې وارې د غلمانو او اوه ځلې د حورو یادونه شوې چې جنتیانو ته به د یو ځانګړي انعام په ډول ورکول کیږي (مُتَّكِئِينَ عَلَىٰ سُرُرٍ مَصْفُوفَةٍ وَزَوَّجْنَاهُمْ بِحُورٍ عِينٍ - دوئ به هلته په کتار شوو تختونو ډه ډه وهلي ناست وي او موږ به ښایستوکي، سپینې او د غټو سترګو والا پیغلې ورته واده کړو).

حور چې مفرده یې حَوراء دی، هغې ناواده پیغلې ته ویل کیږي چې د سبرې په شان ښکلې ونه، چیټ سپین مخ او غټې تورې سترګې ولرې. پاک لمنې به وي، له خپل میړه سره به بې کچه مینه کوي او د هغه خدمت او جنسي غریزه به اشباع کوي. ځکه چې خاوندان به یې پدی دنیا نیکان، د الله تعالی څخه ډاریدونکي، د رسول خبره منونکي او ښه انسانان وو.

مګر ښځه د ربا په ځای له ختې پیدا شوې او انسان دی، پوره انسان او برابر انسان. ښځه اراده لري، شخصیت لري، غوښتنې لري، حقوق لري، غریزه لري او ډیر کله له نارینه انسان څخه غوره او لوړه ده. په قرانکریم کې سورت الرجال نشته خو په پنځمې سیپارې کې د النساء په نوم سورت شته. او بله دا چې د مریم (ع) په څیر د یوې پاک لمنې میرمنې په عنوان سورت نازل شوی او د مور قدمونه له جنت سره نښتي او د تقدس مقام لري.

خو له بده قسمته، د میرمنو تاریخ له ډیر پخوا څخه د ناخوالی، نا انډولی او بی وسی څخه ډک دی. لرغوني یونانیانو، د رومن امپراطوری مذهبي او سیاسي مشرانو او د منځنیو پیریو اروپایانو، ښځه له سړي سره برابره نه ګڼله. د قانون په پانو کې هغې ته لکه د یو ماشوم، لیوني او غیر مکلف انسان په سترګه کتل کیدل. همدا نن د هندوستان، بوټان او نیپال په ځینو سیمو او قبیلو کې ښځه د شر کتی، پلشته او پلیته ګڼل کیږي. د میاشتني عادت (حیض) په لسو ورځو کې له کوره شړل کیږي او د حیواناتو په څیر په شړو او لرې پرتو پنغالو او چوترو کې رمه رمه ساتل کیږي او په میراث، سیاست او ټولنه کې هغوئ ته د کوم رول ورکول خو د مرغی پی دي.

البته، دلته خبره بل ډول ده. د حضرت پیغمبر (ص) مشرې میرمنې خدیجې (رض) خپل تجارت درلود، بله میرمن حضرت سلمی یې مشاوره وه چې د حدیبیې د صلح په ورځ یې رسول الله ته د سر خریبلو او قربانی کولو تاریخي مشوره ورکړه. کشره او نازولې میرمن یې، حضرت عائشه یوه غوره معلمه او د دوه نیم زرو صحیحو احادیثو حافظه او روایت کونکې وه. د حضرت پیغمبر د کاکا لمسۍ او د عباسي خلافت د مشهور خلیفه هارون الرشید میرمن، زبیده بنت جعفر تکړه مهندسه او د هغې سترې ویالې سرپرسته وه چې د عراق د دجلې له سیند څخه یې د عرفات او مکې سپیرو دښتو ته اوبه ورسولې.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په څیر و لولئ

خو زموږ په ټولنه کې، د دغسی ستر نبي ډيرې امتيان او د حورو مينان د خپلو ميرمنو او لوڼو لپاره مازې دوه انتخابه لري: کور يا ګور. پدی شرميږي چې د خپل کور ښځينه ذات ډاکټره، ښوونکې او مشاروره کړي، خو دا ورته بی غيرتي نه ښکاري چې خپله اميدواره ميرمن، ځوانه لور او اينګور، يو ځوان، ښکلي او د جنډه جنډه بريتونو ډاکټر کلينيک ته ور ولي چې د ماشوم د زيږيدو په مهال يی درملنه وکړي.

دوئ ښځه يواځې د ميره د جنسي خواهشاتو او غريزې د سړولو او تفريح وسيله ګڼي، په کتغ کې د مالګې د زياتوالي له امله يی سپکوي او په تناره کې د ډوډی د سوځيدو په سر يی ټکوي او شخصيت يی ور وژني. د نجونو مکتبونه سوځوي او په ښايسته مخونو يی تيزاب ورشيندي. پداسی حال کې چې يو مبارک حديث د ميرمن د حيثيت او کرامت ستاينه پدی ډول کوي : (المرأة لا يكرمها إلا كريم و لا يهينها إلا لئيم - د ميرمنې عزت هغه څوک کوي چې پخپله درونډ او عزتمند وي او هيڅ څوک يی سپکه او توهين نکوي مګر دا چې پخپله سپک او دوه توتې سړی وي).

کله چې رسول الله (ص) د عرفات په غونډی نژدی يولک اصحابو ته د مخه ښې د حج خطبه اوروله او بيا کله چې وفات کيده، نو د ژوند پدی دواړو مهمو شيبو کې يی د الله له وحدانيت او عبادت وروسته خپل امت ته داسی توصيه او مشوره ور کړه: (أيها الناس، اتقوا الله في النساء، اتقوا الله في النساء، اوصيكم بالنساء خيرا - ای خلکو د ښځو په هکله له الله څخه وډاريږئ، له خالق څخه يره وکړئ او زه تاسو ته توصيه او مشوره درکوم چې له ښځو سره ښه سلوک او نيکه ګوزاره وکړئ ).

د دغو ناليدلو حورو او غلمانو شوقيان دی اوس پخپلو ګريوانونو کې سرونه ښکته او پدی دی غور وکړي چې آيا د حواء لوڼې، يواځې د حورو په شان د سړو د شهوت د سړولو لپاره زيږيدلی، کنه هغوئ هم د ادم د زامنو په څير پوره انسانان او د کرامت څښتنانې دي؟ او آيا هغه څوک چې خپل کلمه ګو ورور وژني، يا يو مبارک عالم د منبر د پاسه د جمعې په ورځ، روژه په خوله شهيدوي او په محراب کې سر په سجده پروت بنده په بمونو الوزوي، يا د هيواد څخه د دفاع په مورچه کې پروت سرتيری د موچي په تار حلالوي، ممکن ده چې له حورو سره دی واده وکړي او له هغوئ سره دی د ګډ ژوند مستحق شي؟

او بله داچې نن د جمعې په ورځ يو ستر مفتي په جار سره بيا بيا دا خبره تکرار کړه، هغه حورې چې الله تعالی يی جنتيانو ته په برخه کوي، تر هغو حورو ډيرې ښکلې او سپيڅلې دي کومې چې نن سبا د لينن کبير د قبر خواته د زانو په څير راټولې او څنې پورته پورته غورځوي. ؟!



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ